د سلام نړيوال علمي ژورنال
Salam International Academic Journal
Journal Homepage: https://journal.salam.edu.af
لسم کال، شمیره ۱۷، پسرلی، کال ۱۴۰۴هـ ش

# بهرنيو هيوادونو ته د افغانانو د مهاجرتونو عوامل، پايلې او حل لارې (د مطالعې ساحه: د فراه ولايت)

پوهنیار نصیراحمد نصرت[1]، فواد مومند عمرزی[2]، محفوظ الله راشد[3]

DOI: 10.64104/v10.Issue17.n18.2025

ISSN: 3078-9575 (Print)
ISSN: 3078-9583 (Online)
تاریخ نشر: ۱۴۰۴/۰۵/۰۸
تعداد صفحات: ۱۹
از صفحه ۳۲۶ تا ۳۴۴

## لنډيز

کډوالي د نړيوالو جګړو، سياسي بې‌ثباتي، اقتصادي ستونزو، طبيعي آفتونو او اقليمي بدلونونو له امله يوه جدي ښکارنده (پدیده) ده چې په ورو‌ستيو لسيزو کې يې پراختيا موندلې ده. دا څېړنه د افغانانو د مهاجرت اصلي لاملونه، پايلې او د حل عملي وړانديزونه تحليلوي. د څېړنې اهميت په دې کې دی چې مهاجرت د افغانستان اقتصادي، ټولنيزو او سياسي ستونزو ته دوام ورکوي او د کوربه هيوادونو پر اقتصادي، ټولنيز او کلتوري جوړښتونو اغېز کوي. سربېره پردې، دا څېړنه د مهاجرت د دوامداره اغېزو او د افغانستان د پراختيا لپاره د مهاجرت د کمولو پر ستراتيژيو تمرکز کوي. د څېړنې هدف د مهاجرت د لاملونو او پايلو تحليل او د کمولو لپاره يې عملي وړانديزونه وړاندې کول دي. اصلي پوښتنه دا ده: "کوم اقتصادي، سياسي، ټولنيز او چاپيريالي عناصر د افغانانو د مهاجرت سبب شوي او پايلې يې څه دي؟" د څېړنې لپاره معلومات د ۳۸۵ نمونو له لارې د پوښتنليک په مرسته راټول او د SPSS نرم‌افزار له لارې تحليل شول. د احصايوي ازموينو پايلې لکه د پيرسون پيوستون($r = 0.75$) ، ANOVA ($p < 0.05$)، کرونباخ الفا ($\alpha = 0.85$)او څوګوني رګريسيون (Multiple Regression) ښيي چې وزګارتيا($\beta = 0.55$)، بېوزلي($\beta = 0.47$) ، سياسي بې‌ثباتي ($\beta = 0.60$) او اقليمي بدلونونه ($\beta = 0.38$) د افغانانو د مهاجرت اصلي لاملونه دي. همدارنګه، د مهاجرت اغېزې د کوربه هيوادونو لپاره دGDP 10 ٪ زياتوالی ښيي، خو د ټولنيزو ستونزو او کلتوري فشارونو لامل هم ګرځي. پايلې وړانديز کوي چې د افغانانو د مهاجرت د کمولو لپاره بايد د امنيت

[1]. اګرانومي څانګه، فراه د لوړو زده کړو مؤسسه، nasirahmadnasrat100@gmail.com
[2]. د کرنيز اقتصاد او ترويج څانګه، کرهنې پوهنځی، فراه د لوړو زده کړو مؤسسه
[3]. د کرنيز اقتصاد او ترويج څانګه، کرهنې پوهنځی، فراه د لوړو زده کړو مؤسسه

استفاده از مقالات مجله با ذکر نام و مصدر مجاز می باشد
The use of the journal's articles is permitted provided that the author's name and the source are properly cited.

ټينګښت، اقتصادي پراختيا، شغلي فرصتونو برابرول او د نړیوالو سازمانونو لکه UNHCR او IOM پراخه همکاري رامنځته شي، ترڅو د مهاجرت منفي پایلې کمې او پایښت لرونکي حل لارې وړاندې شي.

**کليدي کلمې: اقليمي بدلونونه، بيکاري، سياسي بې‌ثباتي، فقر، مهاجرت.**